# CARD-F

Stimulating Investments in Agricultural Value Chains

# د کرنې د ودې او د کليو د پراختيا پروګرام CARD-F

## د چرګانو په برخه کې د پانګه اچونې خبرتيا
## د افغانستان په ټولو زونونو کې د غوښينو نسلي چرګانو د فارمونوجوړول

د کرنې د ودې او د کليو د پراختيا پروګرام (کارډ-اف) په افغانستان کې دچرګانو دځنځيري ارزښت ملي پروژه تطبيقوي. دپروژې دمختلفو اجزاوو ترڅنګ کارډ-اف په پام کې لري چې ددې ملي پروژې له لارې د۲۵۰۰۰ چرګوړو ظرفيت لرونکي ۲۱ د غوښينو چرګوړو فارمونه له خصوصي سکتور سره په قيمت کې د ونډه اخيستلو له لارې جوړ کړي ( د مصارفو يوه ځانګړې برخه او تخنيکي مرستې به دکارډ-اف له لورې دوړيا مرستې په توګه ورکول کيږي). دا فارمونه به د افغانستان د ټولو زونونو په مرکزونو کې جوړ شي. د کارډ-اف برنامه ددې اعلان له لارې ټولو پانګه والو ته خبر ورکوي چې د ذکر شوو بلاعوضه مرستو د ترلاسه کولو لپاره خپل پروپوزلونه (د وړيا مرستو لپاره د غوښتنلیک شوویو اسنادو بستې) د کارډ-اف د برنامې مرکزي او يا ولايتي دفترونو ته تسليم کړي. د يو ۲۵ زريز غوښينو چرګانو د فارم د جوړولو ټول مصرف ۱۷۰۷۷۰ امريکايي ډالره (د ځمکې له قيمت څخه پرته) اټکل شوی او د کارډ-اف د برنامې وړيا مرسته پکې۴۰ سلنه ده.







## ددې لپاره چې ددې بلاعوضه مرستې دترلاسه کولووړوګنل شي، غوښتونکی بايد لاندې لاربښوونې په نظر کې ونيسي:

۱. ځمکه: (۳۰ نمرې)
a. د ځمکې د ملکيت اسناد: (ځمکه بايد يا قواله ولري او يا له دولت څخه په اجاره شوې وي)
i. دځمکې سند (قباله) بايد يا د غوښتونکي په نوم ياد شرکت په نوم اويا هم دغوښتونکي پلار (په دې صورت کې بايد د پلار د تذکرې يوه کاپي او رضايت خط ولري( په نوم وي او يا په رسمي ډول اجاره شوې چې دغوښتنليک دتسليمې دورځې څخه تر شلو کلونوپورې داعتباروروي هم منل کيږي. غوښتونکي بايد په دې حالت کې د ځمکې د مالک قواله، د معاملاتو د لارښووني دفتر د جواز کاپي او اجاره ليک چې د هماغه دفتر په سرليک باندې ليکل شوی وي له خپل پروپوزل سره يو ځای تسليم کړي.که کوم غوښتونکی ونشي کولای د ځمکې د ملکيت سند شرطونه پوره کړي د ځمکې د اندازې او يا د هغې د وړتيا لپاه نمرې نه ورکول کيږي.
b. د فارم جوړولولپاره دځمکې اندازه:د ځمکې اندازه: د ځمکې اندازه د يو شيډ دمصوونيت دآلاتو (Bio Security Tools)او ذخيره ګاه لپاره بايد لږ تر لږه ۲ جريبه وي
c. د ځمکې وړتياوې:
i. ځمکه بايد په صنعتي پارک کې وي او ۶-۹ شرايط پوره کړي. که په صنعتي پارک کې نه وي، بايد په لاندې ټولو معيارونو پوره وي:
ii. ځمکه بايد له سرک سره نږدې وي (پوخ سرک سره نښتي ځمکه ته به لومړيتوب ورکول کيږي).
iii. ځمکه بايد دسيند څخه لرې او دخوړونو د سطحې څخه چپه وي.
iv. دوهل شوي اوله منځه تللي ځنګل ځمکه به نه وي.
v. د څښلووړ د کوهي او يا ښاري نلونو کافي اندازه اوبو ته لاسرسی ولري.
vi. دساختمان جوړولو ظرفيت ولري.
vii. دعمومي برېښنا سره وصل او عملياتي برېښنا ته لاسرسی ولري.
viii. د کارډايف د برنامې د بفر زون په معيارونو پوره وي (ذکر شوي معيارونه به د اسنادو د تسليمي نه مخکې ناسته کې تشريح شي)
ix. کومه ځمکه چې په راتلونکې کې د فارم دچارو د پراختيا وړتيا ولري لومړيتوب ورکول کيږي.
۲. بانکي سند: (۳۰ نمرې)
a. بانکي سند بايد د غوښتونکي په خپل اويايي دشرکت په نوم وي اوپه حساب کې يې د يوې بستې لپاره يو ۱۵۰۰۰۰ او ياد هغې څخه زياتو امريکايي ډالرو شتون وښيي. سند بايد د اسنادو د تسليمي څخه تر شل ورځو څخه مخکې نه وي چاپ شوی.
بانکي سند ته نمرې په لاندې ډول ورکول کيږي:
i. ۲۰ نمرې هغه بانکي سند ته ورکول کيږي چې ټاکل شوی اندازه پيسې پکې وي.
ii. ۱۰ نمرې په تيرو شپږو مياشتو کې يې د راکړه ورکړو په اساس په حساب کې تغيراتو په نظر کې نيولو سره ورکول کيږي
۳. وړاندې کړای شوی سوداګريز پلان: ۲۰ نمرې)
a. د مرغدارې په سکتور کې د سوداګرۍ اوسنی حالت
b. دسوداګريزې موقع د پرمخ وړولو لپاره لرليد، تګلورې او اهداف
c. دغوښينو چرګوړو د فارم وړاندې شوې ځانګړنې ( ظرفيت، سکيچ، نقشه اونور توضيحات)
d. دساختمان جوړولو پلان ( فعاليتونه او دکارونو دپوره کولو مهال ويش) او دآلاتو دترلاسه کولو لنډ پلان
e. مالي پلان: په ډالرو کې د تطبيق اټکل شوې بوديجه - د ځمکې د قيمت څخه پرته - او همدارنګه د راتلونکو دوه کلونو لپاره د لګښتونو او عوايدو لنډيز.
f. دبازارموندنې پلان
i. دعرضې اوتقاضا موجوده وضعيت
ii. موجوده اومتوقع رقابت کونکې
iii. دتوليداتو دعرضې لپاره هدف شوی بازار
iv. دفي واحد توليد پلان شوی قيمت
v. دپايښت ستراتيژي( داسې يوميکانيزم ذکرکول چې څرنګه به دغه د غوښينوچرګوړو فارم په دوامداره توګه فعال پاتې شي)
۴. اړونده تجربه:(۲۰ نمرې)
a. دآيسا يا سوداګريو اوصنايعو وزارت سره د شرکت ثبت جواز او ياهم دجواز دترلاسه کولو لپاره دعريضې شتون.
b. غوښتونکي شرکتونه بايد د چرګانو د تجارت او يا په تجارتي بڼه د چرګانو د روزنې په برخه کې د تيرو پنځو کلونود تجربې شواهد او اسناد د کارډاف دفتر ته په ډاګه کړي. اوس وخت کې فعالو شرکتونو ته اوليت ورکول کيږي.
c. د بشري سرچينو توضيح (ارګانوګرام، دپروژې دتطبيق لپاره د ارګانوکرام په اساس دوړاندې شوو کارمندانو خلص سوانح

## د پوره غوښتنليک لپاره ضروري اسناد: (لاندې ټول اسناد بايد د پورته ذکر شوو معلوماتو سره سم تسليم کړای شي)

- د کارډايف سټنډرډ غوښتنليک يا فورمه
- تجارتي پلان
- بانکي سند
- د چرګانو په برخه کې د تيرو پنځو کلنو دتجربې اسناد
- د ايسا او يا د وزارت تجارت لايسنس
- د کارمندانو خلص سوانح
- د ځمکې د ملکيت سند او يا هم اجاره خط
- دتذکيرې کاپي
- دځمکې دمالک رضايت خط (داړتيا په صورت کې)

## دعريضې/غوښتنليک دبستې تسليمول:

غوښتونکي کولای شي چې دکارډ-اف ځانګړې او معياري فورمه يواځې دکارډ-اف دويب سايت(www.cardf.gov.af) او يا هم ددې برنامې له ولايتي دفترونو څخه ترلاسه کړي.
د پروپوزلونو (دغوښتنل شويو اسناو بستې) دورکړې وروستی نيټه:
پروپوزلونه (چې پورته ذکر شوې ټول اسناد پکې شامل وي) بايد د۲۰۱۷ م کال د جنورۍ دمياشتې له ۲۳مې نيټې چې د۱۳۹۵ هجرى شمسي کال د دلو دمياشتې د ۴مې نيټې سره سمون خوري د مازيګر د۴ بجو څخه مخکې له ذکر شوو اسنادو سره يو ځای په يادو پتو تسليم کړای شي. د پروپوزلونو د تسليملو پر وخت له تسليموونکي مسؤل شخص څخه د عريضې د تسليملو په مقابل کې بايد يو ځانګړی سند واخيستل شي. همدارنګه ټول اړين اسناد بايد د غوښتونکي له خوا امضا او سټامپ شي او په سر پټې بسته کې په داسې ډول تسليم شي چې د فرصت نوم پرې - د غوښينو چرګانو ۲۵زريزفارم – پرې ليکلې وي تسلم شي.

## د انتخاب پروسه:

1) يوازې او يوازې هغه غوښتنليکونه يا عرضې چې اول او دوهم معيارونه يې پوره کړي وي، د پروسس لپاره پر مخ وړل کيږي.
2) ټول جمع شوي غوښتنليکونه به د پورته ذکر شوو څلورو معيارونو په اساس ارزيابي کيږي.
3) دا امکان لري چې د کارډايف برنامه به له شارټ ليسټ شوو کانديدانو سره مرکې ولري.
4) د کارډايف برنامه ټولو غوښتونکو ته ددوی د غوښتنليکونو د نتيجې په اړه احوال ورکړي.

## عمومي معيارونه:

- په هيڅ شکل د کوکنارو او نورو منعه شوو زراعتي محصولاتو په کرنه کې ښکيل نه وي.
- له کارډ-اف سره د پروژې د عملي کولو په برخه کې لازمه مرسته وکړي او د تل لپاره بايد د څارنې او ارزونې (M&E) ټيم ته د پروژې په اړه کره معلومات ورکړي.
- د کارډ-اف برنامې له کرنلارو، دهقانانو او وړو دهقانانو سره په مستقيم او غير مستقيم ډول همکار واوسي.
- د پروژې اړوند په ټولو روزنيزو پروګرامونو او کتنو کښې ګډون وکړي.
- په مخکې نه جوړ شوي ترتيب کې ټول اړين مواد د کارډ-اف برنامې سره شريک کړي.
- د کارډ-اف له برنامې سره د بلاعوضه مرستې داسې يو تړون امضا کړي چې په هغه کې د کارډ-اف مستفيد او د ضرورت په وخت کې د يوې دريمې ډلې ټول حقوق او مسؤليتونه درج شوي وي.
- د کارډ-اف د کومک په اساس جوړ شوي کاروبار ټول عوايد، مصارف امد او داسې نورو صحيح رکارډ وساتي او د کارډ-اف د برنامې کار کوونکو ته اجازه ورکړي تر څو له کاروبار څخه ليدنه وکړي او ضروري معلومات ورسره شريک کړي.
- د کاروبار د چلولو لپاره د اړتيا وړ کارمندان وګوماري.
- له هغو کړنو څخه چې د چاپيريال يعني د هوا، اوبو او ځمکې د زيان سبب ګرځي، ځان وژغوري.
- له هغو کړنو څخه چې د په ټولنه کې د شخړو (جګړه، تاوتريخوالی، زړه بدوالی او يا لفظي شخړو) او يا د ټولنيزو جنجالونو سبب ګرځي، ځان وژغوري.

يادونه: ټولو علاقه مندو غوښتونکو څخه هيله کيږي چې د پروپوزلونو دتسليمي څخه وړاندې په يوه غونډه کې چې د۲۰۱۷ م کال د جنورۍ دمياشتې په ۱۵مه نيټه چې د ۱۳۹۵هجرى شمسى کال دجدى دمياشتې ۲۶ مې نيټې سره سمون خوري د کارډ-اف په مرکزي دفتر کې دايريږي برخه واخلي. ددې ناستې موخه ټولو غوښتونکو ته ددې فرصت په اړه اړين معلومات ورکول او په دې اړه د هغوی د پوښتنو جوابونه دي.

د کابل پته: د کرهنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت، هميشه بهار ودانۍ د کارډ-اف دفتر.
د کارډايف دفترونه په کابل، ننګرهار، بلخ، بدخشان، پروان، هلمند، هرات، کندهار، خوست، تخار او لوګر ولايتونو کې شتونه لري.
www.cardf.gov.af